



# Orientation to Ontario

## د زده‌کړو او ژبې د زده‌کولو دوام

### د زده کړو دوام

په دوامدار زده کړو کې، چې د بالغ زده کړې په نوم هم یادېږي، د کورسونو ټول هغه ډولونه شاملېږي چې لویان یې په پوهنتون یا کالج کې د رسمي زده کړې بشپړولو وروسته اخلي. دا کورسونه کولی شي تاسو سره د شخصي ګټو په وده کې مرسته وکړي (لکه ذوقي کارونه) یا د کار اړوند موخې ترلاسه کړئ (لکه د کمپیوټر مهارتونه). دوامداره زده کړې د ښوونځیو د بورډونو، کالجونو او پوهنتونونو لخوا وړاندیز کیږي او معمولاً د اونۍ په پای یا ماښام کې وي.

- د خپل محلي ښوونځي بورډ یا پلاوي موندلو لپاره لاندې لینکونه وګورئ: ontario.ca یا findlink.at/schoolinfo
- د اونټاریو کالجونو او پوهنتونونو موندلو لپاره لاندې لینکونه وګورئ: ontario.ca یا findlink.at/findschool
- خپل د لیک لوست او ریاضي مهارتونو د ښه کولو په اړه د د معلوماتو لپاره ontario.ca یا findlink.at/adultlearn وګورئ.
- که تاسو له 18 کلنۍ پورته عمر لرئ او غواړئ د ثانوي ښوونځي ډیپلوم ترلاسه کړئ، تاسو کولی شئ په خپله سیمه کې په ontario.ca یا findlink.at/OSSD کې وړیا پروګرام ومومئ.

د زدو کړې خپلواک مرکز د عالي لیسې ځینې کریډېټ کورسونه آنلاین وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره ترونی (لینک) خلاص کړئ ilc.org

### د ژبې زده‌کړه

د ښوونځیو بورډونه (پلاوي) ، کالجونه او د ټولنې اداري د حکومت لخوا تمویل شوي د انګلیسي او فرانسوي ژبو ټولګي وړاندې کوي. پوهنتونونه او د خصوصي ژبې ښوونځي هم د ژبې کورسونه وړاندې کویخو دا کورسونه فیس اخلي.

په اونټاریو کې د ژبې بېلا بېل کورسونه شته. دا د ژبې د کورسونو د بېلابېلو کټګوریو لیست دی:

- د انګلیسي ژبې د سواد زده کړې پراختیا (ELD)
- انګلیسي او فرانسوي د دویمې ژبې په توګه (ESL او FSL)
- کاناډا ته د نویو راغلو کسانو لپاره د ژبې لارښوونې (LINC).
- د مسلک ځانګړې ژبې زده‌کړه (OSLT)
- د ژبې پرمختللې زده‌کړه (ELT)
- د کاناډا د مهاجرینو کورسونه (CLIC)
- د ژبې ځانګړې زده‌کړه (SLT)

د شته ژبو د بېلابېلو ډولونو د تشریح لپاره settlement.org/translated-information یا findlink.at/ESLprogram ته مراجعه وکړئ.

ستاسو په سیمه کې د ژبې زده‌کړې ټولګیو د موندلو لپاره د اونټاریو ګډوالۍ ادارې ته په لاندې لینکونو مراجعه وکړئ ontario.ca یا findlink.at/onlinetool

د LINC په کور مطالعې په اړه د معلوماتو لپاره (له کوره د ژبې زده‌کړه) لاندې لینکونهوګورئ ontario.ca یا findlink.at/homestudy

د اونټاریو په کالجونو کې وړاندیز شوي د مسلک ځانګړې ژبې د زده‌کړې (OSLT) په اړه د معلوماتو لپاره لاندې لینک وګورئ co-oslt.org

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o



Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

## د ژبې ارزونه

د ژبې ځینې کورسونه مخکې له دې چې تاسو نوم لیکنه وکړئ د ژبې مهارتونو ارزوي. د مېشتېدنې له مشاور څخه وغواړئ چې ستاسو په سیمه کې د ارزونې مرکز ته مو رهنمایي کړي.

د مېشتېدنې د نړدې اداري موندلو لهپاره settlement.org ته مراجعه وکړئ

د ژبې د ارزونې اړوند نور معلومات په language.ca یا findlink.at/clb-assess لینکونو کې ولولئ.

## ایا پوهېږئ؟

**ډیری کارګمارونکي مسلکي پرمختیایي پروګرامونه لري ترڅو د کارمندانو ته د دوامداره زده کړې لهپاره پیسې ورکړي. د شته اختیارونو په اړه له خپل مدیر یا د بشري سرچینو له څانګې پوښتنه وکړئ.**

